# پښتني خويونه او دودونه
# د خوشحال خان خټک د شاعرۍ په رڼا کښې

**Attitude and customs of Pashtunwali depicted in the poetry of Khushal Khan Khattak**

ډاکټر سيد باچا آغا*


## Abstract:

Pashtuns are considered one of the most primitive nations on the globe. Therefore, roots of their tradition could be traced in the ancient religions, and witness a huge collection of cultural dogmas and rituals. Islamization of Pashtun culture has always been debated. Some of the scholars supported it whereas some of them strongly resisted on logical grounds. Author of this paper strived to unpack the traditional values of Pashtuns in the light of Quran and Sunnah besides the poetry of Khushal Khan Khattak so that to pin point the merits and demerits of cultural values


کله چې يو څېړنکار د يوې فنپارې په اړه څېړنه کوي او هغه داسې څېړنه وي چې د دلائلو په بنياد ثابتيږي، نو دغه دلائل په مجموعي توګه په درې قسم راځي يو قسم دلائل نقلي وي هغه که بيا په قرآن کريم کښې وي او که په حديث شريف کښې وي، دوېم قسم دلائل عقلي وي چې مونږ کله يو څۀ خبره ثابتول غواړو نو هغه خبره بايد چې مونږ څرنګه ثابتوو نو عقل د هغې خبرې سره ضد نۀ وي، درېم مشهور او مضبوط دليل د شاعر شعر وي چې د خبرې د ټينګښت دپاره د دليل په توګه وړاندې کړل شي، دلته پورتنۍ يوه خبره ده چې د پښتنو د خويونو او دودونو ثبوتونه په پورتنيو درې واړو حوالو کښې ثبوت لري، نو د دې خبرې د ثبوت دپاره بايد چې هم دغه دلائل وړاندې شي کوم چې د نقلي دلايلو په زمره کښې راځي، خو دلته د پښتنو د خويونو او دودونه خبره روانه ده، نو د پښتنو په اړه هم بايد چې يوه وړه شان خبره وشي.

د پښتنو د اصل او نسل په اړه ډېرې نظريې دي چې ځينې مؤرخين يې آرين بولي، څنې يې بني اسرائيل، څنې يې يونانيان، څنې قبطيان او څنې نور، خو په دې نظريو کښې مشهوره نظريه چې د تحقيق له رويه ثابته ده هغه دا ده چې پښتانۀ د اريائي توکم يوه مشهوره څانګه ده

* Assistant Professor, Government Degree College, Quetta

چې د رګوېد په سندرو کښې د پکهت/ پښت په نامه ياده شوې ده، پښتانهٔ په يوه شريکه پيوسته مځکه کښې اوسېدل، ټولو په يوه ژبه پښتو خبرې کولې او د يوهٔ دين اسلام تابع وو او تر اوسه پورې د هغهٔ اسلام په تعليماتو برابره زندګي کوي. پښتانهٔ اصلاً هوښيار، ځيرك او په ازادۍ او امن مين خلق دي، د پښتو په کلمه کښې د دوی ټول کلتور، تهذيب او تمدن خوندي دی، پښتو يوازې د پښتانهٔ قام ژبه نهٔ ده بلکې په يوه معنٰی پښتو د ښهٔ ژوند په ښهٔ سليقه کولو يو اهم آئين او قانون يا په نورو تورو کښې د هغو اصولو نوم دی په کوم باندې چې پښتانهٔ له عمرو راهيسې په ښه طريقه ژوند تېروي، دغسې پښتو که د پښتانهٔ قام ژبه ده نو د پت، عزت او ښهٔ خوی، تورې او مېړانې، ننګ او غيرت، وفا او حيا نوم هم دی.

"پښتو، پښتونواله او پښتونولي دا ټولې کلمې په يوه مطلب او معنا دلالت کوي، پت پالل، ننواتې منل، پناه ورکول، په ژبه او قول ټينګ درېدل، د ناموس ساتنه، د مشرانو عزت، د ښځمنو درناوی، د غريب او ګاونډي مرسته او داسې نور غوره خويونه او عادتونه د پښتو او پښتونوالۍ په لوی مفهوم کښې نغښتي دي او د دوی ټول تاريخي برم، ملي روح او قومي شرافت په دغو کلمو کښې پروت دی، دوی خپلو ټولو درنو خويونو، دودونو او غوره کارونو ته پښتو او پښتونواله وايي"(1).

په پورتنۍ حواله کښې ذکر شوي هغه خويونه دي چې د دنيا هر قام چې يې ويني نو به حتماً دا ووايي چې دا خويونه او دودونه د يوهٔ مهذب قام تر ټولو لويه نخښه ده. او دغه خويونه او اصولونه لکه د پښتانهٔ قام د ژوند هينداره ده دغسې دغه اصولونه او خويونه د اسلامي تعليماتو په زمره کښې هم راځي، ځکه خو پوهان وايي چې پښتو او اسلام دوه لازم او ملزوم شيان دي، هر ځای چې پښتو وي هلته به اسلام وي او هر ځای چې اسلام وي هلته به لامحاله پښتو وي. ځنې پوهان وايي:

"چې په ډېرو ځايونو کښې پښتونولي له اسلامه سره فرق لري، هغوی دا مني چې د پښتونولي زياتره اصولونه اسلامي بنياد لري، خو دا ورپسې زياتوي چې دغه اسلامي بنياد لرونکي اصولونه پر خپل حال نهٔ دي پاته اوس ډېر بدلون په کښې راغلی دی [د بدلون په اړه راځي] چې يوې بي بي د کاکاخېلو له يوهٔ ديني عالم سره وادهٔ کړی ؤ او له وادهٔ وروسته ژوند يې ټول په دغه قبيله کښې تېر کړی ؤ، د هغې په اړه په همدغه پروګرام کښې اروابښاد سيد تقويم الحق کاکاخېل ووئيل چې دې به وئيل چې د کاکاخېلو پرده د اسلام تر هغې څهٔ سخته ده، خو زهٔ ولې چې په دغو خلقو وادهٔ يم، په دا نو د دوی دود دستور منل هم پر ځان لازم ګڼم، او د دوی د ښځو رنګه پرده کوم، خو مونږ بيا د دغې بي بي پر خبره باندې دا هم ورزياتولی شو چې دا يوازې د کاکاخېلو خبره نهٔ ده ګرسره د پښتنو پرده د اسلام تر هغې سخته ده. په اسلام

کښې خو د دې اجازه هم شته چې یوه ښځکه که غواړې نو لومړی یې مخ ووینه، که دي خوښه شوه بیا یې وغواړه، خو پښتانۀ دا کله هم نۀ زغمي"(2).

په دې کښې هيڅ شك نۀ شته چې د پښتنو ځنې دودونه د اسلام تر تعليماتو ډېر زيات سخت دي، دا ځکه چې اسلام خو په هرڅۀ کښې ميانه روي خوښوي او پښتانۀ په هرڅۀ کښې سختي خوښوي، او بيا خصوصاً د غرو او د صحراوو پښتانۀ خو تر حد زيات ټينګ روايات او اقدار لري. دلته د پښتنو د ښۀ ژوند کولو دپاره ځينې صفتونه دلته ذکر کوم، کوم چې پښتانۀ قام ته وقار او عزت وربخښي لکه پت، عزت، مېلمستيا، جرګه، بدرګه، وعده او وفا، ننګ او غيرت او داسې نور.

**پت او عزت**: د پښتانۀ قوم تر ټولو دروند او سپېڅلی خوی پت او عزت یا په نور تورو کښې پت پالل او عزت ساتل دي. پښتون په هر حال کښې غريب وي که شتمن خو د پت او عزت ټينګ ملګری وي، دغه وجه ده چې ذلت او سپکاوي ته غاړه نۀ ږدي، له هرڅۀ نه تېرېږي خو له عزت او پت نه نۀ شي تېرېدلی، ملي غرور او لوړ همت له لاسه نۀ ورکوي. خوشحال خان خټك په دې حقله داسې وايي:

"څو په تن د عاشق سر شته
په کښې هومره شور او شر شته
سر چې و څنډي ځوانان
څۀ زمري څۀ يې هاتيان
سر ګيا ورته ښکارېږي
چې هم لري هوډيان
سر دې ځي همت دې نۀ ځي
تل څوك نۀ وي په جهان"(3)

پښتانۀ په يارۍ او دوستۍ کښې هم د پت ساتلو او پت پاللو پوره خيال ساتي، په خپل عادي ژوند کښې د مساوات او برابرۍ ساتنه د پت او عزت یوه ښکاره نخښه بولي، دغه وجه ده چې د بل چا کبر، لويي او غرور نۀ شي زغملی او دا د اسلام او مسلمانۍ یوه لويه نخښه هم ده، چې پښتانۀ قام په خپل ځان کښې راوستې ده، حضورﷺ په دې اړه وايي:

"الاسلام يعلى ولا يعلى عليه"(4).

ترجمه: (اسلام لوړ (عالي همت مذهب) دی پر دۀ باندې بل لوړ شی نۀ شته).

**وفا او وعده**: د پښتونولۍ له لوړو خويونو څخه يو وفا او وعده په ځای کول او په ژبه او قول درېدل يو لوی مقام لري، بې وعدې او بې ژبې سړي ته په پښتني ټولنه کښې هيڅ ارزښت نۀ ورکول کيږي، پښتون په هيڅ ډول له خپلې ژبې او قول څخه نۀ تېرېږي، که هر څومره تاوان ور رسيږي خو خپله وعده حتماً په ځای کوي، د پښتنو په ځينو سيمو کښې دغه د قول او وعدې د توري پر ځای د بول توری هم استعمالوي او چې کله يو پښتون يوه خبره وکړي او وروسته په دې پوه هم شي چې دا خبره مې غلطه کړې ده او يا مې په دې خبره کښې تاوان دی، نو هغه تاوان ته ملا تړي او وايي چې ما بول کړی دی، او د بول توری د قسم په معنا هم اخلي، خوشحال خان ختټک خو په دې عقيده دی چې په دنيا کښې چې څوک نور په هر څۀ کښې وران وي پروا نۀ لري او وران نۀ ښکاري خو کوم څوک چې په قول او وعده کښې وران وي هغه ته وران وايي، څکه خو وايي:

و نور چا و ته وران مه وايه خوشحاله!
چې په قول وعهد وران وي وران **هغه**"(5)

ژبه او قول په پښتني ټولنه کښې له قبالو او رسمي سندونو څخه هم زيات اهميت لري. د پښتني ټولنې چارې لکه پور ورکول، د مځکې خرڅول، د خور او لور ورکول او داسې نور په قول او ژبه پورې اړه لري. د پښتني ژوند د رواج او دود له مخې په ژبه او قول درېدل د اجتماعي او خپل منځي چارو د سمون او ښۀ والي يو پوخ بنسټ ګڼل کيږي"(6).

په دغه حقله اسلام هم د لوظ او وعدې پوره کولو حکم ورکوي، په قرآن کريم کښې الله تعالی او په حديث شريف کښې پيغمبرﷺ په وعده او لوظنامه په ټينګ درېدلو باندې ډېر زور ورکړی دی، الله تعالی په قرآن کريم کښې فرمايي:

"و اوفوا بالعهد ان العهد کان مسئولا"(7).

ترجمه: (او تاسو خپلې وعدې پوره کوئ، بې شکه د وعدو په حقله به له تاسو څخه پوښتنه کيږي).

**ننګ او غيرت**: ننګ او غيرت سره غبرګوني توري دي او دا دواړه د پښتونولي اصلي خويونه دي، د ننګ او غيرت مقام په پښتني ټولنه کښې ډېر اوچت او لوړ دی، بې ننګه سړی په پښتني ټولنه کښې هيڅ ارزښت نۀ لري: "پښتون په پښتونولي پښتون دی، او د پښتونولۍ په بېلابېلو توکو کښې ننګ، پت او مېړانه هغه څۀ دي چې ترسره کول يې لوړ همت، کلکه اراده، سپېڅلی مزاج، سوچه فکر، کره رويه او اوسپنيز بازو غواړي: په دې لړ کښې د خوشحال بابا دا شعرونه وګورئ:

چې د ننګ په چارو نر نۀ وي خوشحاله!
که يې نر وينې په سترګو هم ماده دی"(8)

او په بل ځای کښې داسې وايي:

په خپل نام و ننګ چې راشم لېونی شم
خبردار کله په سود او زيان د لك يم"(9)

په پښتني ژوند کښې دين، وطن، قام، ژبه او ښځه دا ټول په ناموس کښې حسابيږي، نو ځکه په دغو ټولو شيانو باندې ننګ کول د ننګيالیتوب اصلي نخښنه ګڼل کيږي، خوشحال خان خټك هم په دين، په ملك او په ټبر غيرت کول لوی خصلت بولي، خو دومره وايي چې يو د جاهلانو غيرت وي او يو د عاقلانو، د جاهلانو غيرت په تشه بدګماني کښې شمېرل کيږي خو د عاقلانو غيرت په حقيقت او رښتيا وي"(10).

اسلام هم د غيرت تعليم ورکوي، په يو روايت کښې له حضورﷺ څخه د حضرت سعدؓ د سوال په جواب کښې داسې منقول دی چې:

"تاسو تعجب کوئ د سعدؓ په غيرت باندې ليکن زۀ تر دۀ زيات غيرتمن يم او الله تعالٰی تر ما زيات غيرتمن دی"(11).

دا يوه ډېره لويه او بليغه جمله ده چې حضورﷺ د غيرت په باب کښې بيان کړې ده مقصد يې دا دی چې په انسان کښې د غيرتي صفت وي نو دغه صفت په حقيقت کښې د پېغمبرﷺ او د الله تعالٰی له صفتونو څخه يو صفت دی په کوم چا کښې چې دغه د ننګ او غيرت صفت وي نو ګويا دا يې د پېغمبر صفت خپل کړی دی.

**شرم او حيا**: په پښتني خويونو کښې شرم او حيا هم يو غوره او منلی صفت دی، بې شرمه او بې حيا سړی په پښتني ټولنه کښې په ښۀ نامه نۀ يادېږي، په تېره په ښځمنو او تور سرو کښې حيا يو درونډ خوی ګڼل کيږي، خوشحال خان خټك د حيا په باره کښې وايي:

"چې شرم و حيا نۀ لري
دين و دنيا نۀ لري"(12)

اسلام هم د شرم او حيا په ساتلو ډېره سختي کوي او و مسلمان ته دا حکم ورکوي چې پر حيا ټينګ ودرېږي، او حيا د ايمان له برخو څخه يوه برخه ده، يعني که په چا کښې حيا نۀ وه، نو د هغۀ ايمان نيمګړی دی، او که په چا کښې څومره حيا وه د هغۀ به ايمان دغومره ټينګ او زورور وي، په يوۀ حديث کښې حضورﷺ فرمايي:

"اذا لم تستحيی فصنع ماشئت"(13).

ترجمه: ﴿چې په تاسو کښې حيا نۀ شي پاتې، بيا چې څۀ کوی کولی يې شی﴾.

يعني په دغه حديث کښې اشارتاً دا څرګنديږي چې په کوم چا کښې حيا نۀ وي هغه په مثال د يوۀ حيوان وي، او د حيوان خوی دا وي چې څۀ يې زړۀ وغواړي نو د شرم او حيا صفت په کښې نۀ وي هغه په هغه ځای کوي، دغسې که په يو کس کښې حيا نۀ وي نو پېغمبرﷺ وايي چې بيا يې زړۀ څۀ وغواړي هغه دې کوي. ځکه چې په کوم څۀ انسان له بدو راګرځي هغه حيا ده چې کله حيا ختمه شي نو بيا انسان له يوۀ شي هم ځان نۀ راګرځوي.

**جرګه او مرکه**: په پښتني دودو کښې جرګه او مرکه ډېر اوچت مقام لري، د جرګې او مرکې پرېکړه او فيصله په پښتنو کښې د يو قانون حکم لري او هر څوك چې د جرګې له حکم څخه سر غړوي، سر ښېره پر دې چې پړ او ملامت ګڼل کيږي لاژمه سزا هم اکثر وخت ورکول کيږي.

جرګه په دوه ډوله وي، يوه لويه جرګه او بله وړه جرګه، لويه جرګه د غټو او لويو قامي مسئلو دپاره جوړيږي او وړه جرګه د کلي او سيمې د لانجو او دعوو د پرېکړې دپاره منځ ته راځي، جرګه د پښتنو د جمهوريت يوه غوره نمونه ده، د جرګو او مرکو غړي پوه، هوښيار او مشران وي، د جرګو او مرکو مننه د پښتني قانون يوه لاژمه برخه ده، که څوك ډېر په غصه وي او له اوله ځله مرکه نۀ و مني نو بيا بله هم ورلېږل کيږي، جرګې او مرکې د خپل منځني ستونځو د ختمولو يوه غټه او درنه ذريعه ده، هم دا رنګه د جرګې غړي او مرکچيان د دوو ډلو په مينځ کښې د ستونځو ختمولو دپاره معاونين ګڼل کيږي او اسلام هم دغه حکم ورکوي، الله تعالٰی په قرآن حکيم کښې فرمايي:

"وتعاونوا علی البر والتقوٰی ولاتعاونوا علی الاثم والعدوان"(14).

ترجمه: ﴿تاسو د نېکۍ او تقوٰی په کارونو کښې يو له بل سره مرسته کوی، په ګناه او غلطو کارونو کښې د چا مرسته مه کوئ﴾.

د جرګو او مرکو په ذريعه سوله روغه مينځ ته راځي او ډېرې غټې ستونځې ختميږي، په دغه وجه دا يو نېك کار دی او د دې کار په بدل کښې الله تعالٰی د ډېر لوی ثواب ورکولو وعده کړې ده. په دې لړ کښې د خوشحال بابا دغه شعرونه هم وګورئ:

"د نمانځۀ تر قضا ګرانه دا قضا ده
چې قضا شي د څلورو مصلحت
نوراني کا هغه ځای چې سره کښېني
ديرينه څلور هوښيار په مشورت"(15)

**پایله**:

له پورتنیو خبرو دا ثابته شوه چې د پښتني خویونو او دودونو نمونې د پښتنو په هر استوګن ځای کښې را روان وي، او دا هغه خویونه او دودونه دي چې ځای په ځای یې ذکر د خدای پاك په کلام قرآن کریم راغلی دی او کله کله بیا دغه خویونه او دودونه یا اقدار او روایات د پېغمبرﷺ په حدیثونو کښې موجود وي او هم دغه خویونه د پښتو ژبې د لوی او کلاسیك شاعر ستر خوشحال خان ختټك په شاعرۍ کښې هم د شعرونو په بڼه کښې راغلي دي. او زما مدعٰی هم دغه ده چې پښتني دودونه په پورتنیو درو سره حوالو کښې شتون لري.

# حوالې

(1) رښتین، پوهاند صدیق الله، پښتني لاربنود، یونیورستي بك ایجنسي پېښور، 1986ء، مخ40.
(2) دراني، درویش، د پښتني ژوند کړۀ وړۀ، صحاف کتاب خانه ارګ بازار کندهار، افغانستان، 2014ء، مخ154.
(3) خټک، خوشحال خان، دستار نامه، پښتو اکېډمي پېښور یونیورستي، 1991ء، مخ13.
(4) بخاري، محمد بن اسماعیل، صحیح بخاري، قدیمي کتب خانه، کراچي، (جلد 1) مخ 63.
(5) خټک، خوشحال خان، د خوشحال خان خټک کلیات، دانش خپرندویه ټولنه،
ترتیب او سمونه: عبدالقیوم زاهد مشواني، 2008ء، مخ115.
(6) رښتین، پوهاند صدیق الله، پښتني لاربنود، مخ11.
(7) قرآن کریم، سورة بني اسرائیل، پاره 15، آیت 34.
(8) خټک، خوشحال خان، د خوشحال خان خټک کلیات، مخ177.
(9) خټک، خوشحال خان، د خوشحال خان خټک کلیات، مخ125.
(10) خټک، خوشحال خان، دستار نامه، دانش خپرندویه ټولنه، پېښور، مخ123.
(11) بخاري، محمد بن اسماعیل، صحیح بخاري، (جلد 1) مخ 165.
(12) خټک، خوشحال خان، دستارنامه، مخ96.
(13) زاد الطالبین، (د منتخبو احادیثو ټولګه) جدید کتب خانه جنوبي وزیرستان، مخ38.
(14) قرآن کریم، سورة مائده، پاره 6، آیت 2.
(15) خټک، خوشحال خان، د خوشحال خان خټک کلیات، مخ549.